مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۱/۰۱/۲۰

# ستا په لټون

## (ادبي ټوټه)

نه پوهیږم چې د اوښکو سلسله به مې تر کومه غځیدلي وي،

زما د عاجزۍ اوښکي به چیري په دي لارو کي ښخیدلي وي،

څوک به داسي وي چې ګوندی زما په تندي کي یې د عاجزی نښي نښاني لیدلي وي؟

نه پوهیږم چې تر کومه ځایه به زما پلونه رسیدلي وي،

چیرته زما د عمر په بڼ کي زما د عمر له نهاله څو پاڼي غورځیدلي وي،

آ دي معنی پسي چې ما خپلي پښي تناکي کړي دي، چا به دا خاپونه او پلونه لیدلي وي؟

د خاطرو تابلو به مې چیرته ګرد وهلي پرته وي،

فرشته د الهام چیرته غلي وي،

خدای خبر چې پرکومو ورشو ګانو باندی به زما خیالونه ګرځي؟

زما خیالونه به چیرته سرګردانه وي،

**ستا په لټون پسي له خپله ځانه هم ورک شوی یم!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ